# ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشومان د بیمې تر پوښښ لاندې وي!

## د Medicaid  د بیا نیوي کولو پروسه را روانه ده.

**د والدینو د پام وړ!** ایا ستاسو ماشوم د KanCare له لارې بیمه کیږي؟ په Medicaid کې بدلونونه رامنځته کیږي. دغه بدلونونه کولی شي ستاسو د عزیزانو د بیمې په پوښښ اغیزه وکړي. که تاسو یا ستاسو ماشوم اوسمهال په Medicaid کې شامل یاست، نو تاسو ښایي اړتیا ولرئ چې خپل پوښښ بیا نوی کړئ. د بیا نوي کولو پروسه مهمه ده ترڅو ستاسو له ماشومانو سره د دوی روغتیایي بیمې په ساتلو کې مرسته وشي.

### 1 مرحله:  د خپلې اړیکې معلومات تازه کړئ

ډاډ ترلاسه کړئ چې KanCare ستاسو د **اړیکې ترټولو تازه معلومات** له ځانه سره لري. په دغو معلوماتو کې ستاسو د پوستي صندوق پته، بریښنالیک او د تلیفون شمېره شامله ده. خپل معلومات دغه شمېرې 800-792-4884 ته په زنګ وهلو یا هم په KanCare.ks.gov کې د chatbot په کارولو سره تازه کړئ

SCAN ME
kancare.ks.gov

### 2 مرحله: خپل پوستي صندوق څو ځله وګورئ

تاسو به یو چاپ شوی لیک ترلاسه کړئ چې Medicaid ته ستاسو یا ستاسو د ماشوم د ورتوب لپاره به معلومات په کې وي. دغه لیک به تاسو ته معلومات درکړي **چې څرنګه کولی شئ خپل پوښښ بیا نوی کړئ**.

### 3 مرحله: تر وروستۍ نېټې پورې خپله د بیا نوي کولو فورمه ډکه کړئ

د بیا نوي کولو اړونده فورمه ډکه کړئ او د KanCare هغې پتې ته یې بېرته ولېږئ چې درکړل شوې ده. د دې لپاره یوه ځانګړې وروستۍ نېټه او مهالوېش شتون لري چې له مخې یې باید یاده فورمه ډکه شي. له دې چې د ټولو معلوماتو لپاره انتظار وشي غوره دا ده چې سمدلاسه لاسلیک شوې، خو نیمه بشپړه شوې فورمه ولېږئ.

که تاسو تر ټاکل شوې وروستۍ نېټې پورې خپله د بیا نوي کولو فورمه بېرته ونه سپارئ، **نو ستاسو کورنۍ به د** ورتیا په پام کې نیولو پرته پوښښ له لاسه ورکړي. په دې اړه د پوهېدو لپاره چې ستاسو د بیا نوي کولو میاشت کله ده، له KanCare Clearinghouse سره په (800-792-4884) شمېره یا هم د خپلې بیمې له چمتو کوونکي سره اړیکه ونیسئ.



**نور وړ نه دی؟ د وړیا مرستې لپاره له یوه پلټونکي یا Navigator سره اړیکه ونیسئ.**

**www.getcoveredkansas.org**

Cover Kansas™

*دا خپرونه د متحده ایالاتو د Medicare او Medicaid خدماتو مرکزونو (CMS) لخوا ملاتړ کیږي. د روغتیا او بشري خدماتو څانګه (HHS) د مالي مرستې جایزې د یوې برخې په توګه د CMS/HHS لخوا د 100 سلنې تمویل سره د مالي مرستې جایزې د یوې برخې په توګه. یاد محتویات په اړونده لیکوال (لیکوالانو) پورې اړه لري او اړینه نه ده چې د CMS / HHS ، یا د متحده ایالاتو دولت د رسمي نظرونو استازیتوب، او یا هم د دوی تایید وکړي.*

# ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشومان د بیمې تر پوښښ لاندې وي!

## د Medicaid  د بیا نیوي کولو پروسه را روانه ده.

**د والدینو د پام وړ!** ایا ستاسو ماشوم د KanCare له لارې بیمه کیږي؟ په Medicaid کې بدلونونه رامنځته کیږي. دغه بدلونونه کولی شي ستاسو د عزیزانو د بیمې په پوښښ اغېزه وکړي. که تاسو یا ستاسو ماشوم اوسمهال په Medicaid کې شامل یاست، نو تاسو ښایي اړتیا ولرئ چې خپل پوښښ بیا نوی کړئ. د بیا نوي کولو پروسه مهمه ده ترڅو ستاسو له ماشومانو سره د دوی روغتیایي بیمې په ساتلو کې مرسته وشي.